# زما پدې جومات کې يو لمونځ په نورو جوماتونو کې له زرو لمونځونو څخه غوره دی پرته له مسجد الحرام (بيت الله ) څخه

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «زما پدې جومات کې يو لمونځ په نورو جوماتونو کې له زرو لمونځونو څخه غوره دی پرته له مسجد الحرام (بيت الله ) څخه».

[صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی)]

رسول الله صلی الله عليه وسلم په خپل جومات کې د لمانځه فضيلت بيان کړی او ويلي يې دي چې پدې جومات کې لمونځ د ځمکې په سر په نورو جوماتونو کې د زرو لمونځونو څخه ډېر ثواب لري، پرته له مسجد الحرام څخه چې په مکه مکرمه کې دی، ځکه د رسول الله صلی الله عليه وسلم د جومات په پرتله هلته لمونځ کول غوره دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65090

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee